# زېری

علمي- څېړنیزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

شنبه (۳- ۴مه) ګڼه، درېيمه دوره، پرله‌پسې (۳۹۵- ۳۹٦مه) ګڼه، د ۱۴۰۱ل.کال د ثور(غويي) د مياشتې ۳۱مه، د ۱۴۴۳هـ.ق. کال، د شوال المکرم د مياشتې ۱۹مه او د ۲۰۲۲ز.کال، د مۍ ۲۱مه.


دا دنيا ده چې په دا کې څه موجود دي
د دنيا سره همه واړه نابود دي
بد هغه چې يې نظر په سود و زيان دی
ښه هغه چې نه په زيان نه يې په سود دي
- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -
**د خوشحال ختک کليات/ لومړی ټوک/ ٦۴۴ شمېره**

پوهنوال دکتور اجمل ښکلی

## د ادراکي ګرامر له مخې د ژبې څېړنه

**۱. د غونډ جوړښت**

موږ پوهېږو، چې په ادراکي ژبپوهنه کې پيلامي واحدونه په دوه ډوله وېشل کېږي، چې يو ته يې ساده او بل ته يې پېچلي ويل کېږي، په دې نظريه کې يوازې پېچلي پيلامي واحدونه رغونې بلل کېږي(ايوانز او ګرين، ۲۰۰٦: ۵۸۲)، په دې برخه کې موږ پر دغو پېچلو رغونو غږېږو.

په غونډ کې دوه مانيز اړخونه سره پيوستوي، يا به داسې ووايو، چې غونډ دوه مانيز اړخونه سره يو ځای کوي، چې په دې دوو کې يوه خوځند او بل ځاينښه وي، مثلاً "تور سرى" په دې رغونه کې "تور" د رنګونو يو ډول دی، چې په دې حوزه کې يو رنګ مشخصوي، په ادراکي ژبپوهنه کې ستاينوم يوه نامهالمنه اړيکه ده، "سرى" بيا د نومونو په ډله کې راځي، په دې ډول "سرى" يوه داسې ځاينښه ده، چې د "تور" خوځند يې په مانيز اړخ کې مشخصوي، په غربز اړخ کې د دې دواړو توکونو پيوستون ښيي، چې دواړه په يوه بل پسې جوخت تلفظېږي.

په پښتو کې ستاينوم په ستاينوميز غونډ کې د موقعيت له پلوه په دوه ډوله دی، چې يوه ته بر او بل ته لر ستاينوم وايي، په بر ستاينوم کې ستاينوم خوځند او د تشخيص دنده پر غاړه لري؛ خو په لر ستاينوم کې ستايلی خوځند وي او ستاينوم ځاينښه وي، په غربز پلو کې هم دويم ډول کې لومړی ستايلی او بيا ستاينوم تلفظېږي.

**۱-۱- ظرفيت**[1]

ظرفيت دې ته وايي، چې يو فعل د خپلې معنا د بشپړتيا لپاره څومره شريکبانو ته اړتيا لري، مثلاً د "الوتل" فعل يوازې يو شريکبانی غواړي: "مرغی والوته"؛ د "لرل" فعل دوه شريکباني غواړي: "زه قلم لرم"؛ او د "اچول" فعل درې شريکباني غواړي: "انځور اوبه په ګيلاس کې واچولې"، چې "انځور"، "اوبه" او "ګيلاس" درې شريکباني دي، دا نومونه په دوديزو ګرامرونو کې د زړي- اړوند معنا هم رانغاړي او لنګکر يې په همدې معنا کاروي.

په پښتو کې نوميز او فعلي دواړه ډوله غونډونه ګڼ ډولونه لري، چې استاد(۱۳۸۴) زيار پرې په پښويه کې په تفصيل سره غږېدلی او د ناپېژندوييکي، شمېرنوم، ستاينوم، نومځرو، سربلونو وستربلونو او نورو په ملتيا يې پر نوميزو

او همدا راز يې د پلوي نومځرو او نورو په ملتيا پر فعلي غونډونو خبرې شوې دي؛ خو هلته دا يوه تېروتنه شوې ده، چې استاد عبارت او فقره يوځای کړي او دواړو ته يې د غونډ نومونه کارولي ده؛ خو په ګرامرونو کې د غونډ او فقرې د پوړ توپير کېږي او له يوشانوالي سره وبله بېلېږي، غونډ د Phrase او فقره د Clause ته وايي.

په دې ټولو غونډونو کې يوه ته زړی او بل ته اړوند وايي، زړی د غونډ هسته ده، چې اړوند يې تعريفوي، مشخصوي، حالت يې ښيي او يا داسې نورې ځانګړې رابرسېره کوي، مثلاً " پر احمد سربېره" يو سربلي غونډ دی، چې په (PP) ښودل کېږي، د "پر"، "احمد" او "سربېره" له توکيزو جوړښتونو جوړ دی، د ظرفيت يا زړي- اړوند اړيکې له مخې سره تړلي دي، په لاندې بڼه کې يې ليدلای شئ:




بڼه: ظرفيتي اړيکه: (ايوانز او ګرين: ۲۰۰٦: ۵۸۳)

د لنګکر له زاويې نه پر ظرفيت تر نورو خبرو مخکې به يو ځل د زړي او اړوند پر دوديزو نومونو يو ځل بحث وکړو، زړی هغه دی، چې د معنا له پلوه د غونډ په مرکز کې وي او خپل اړوندونه پخپله ټاکي، که دا زړی يا منځتوکی ځيز نوم يا نومځری وي، له اړوندونو سره نوميز

۳مخ

څېړنپوه مولاجان تڼيوال

ژباړه او لنډيز

## د ژبې بنسټيز وييونه او نورې برخې

د ژبې د بنسټيزو وييونو او نورو برخو په منځ کې خورا ډېره پخه اړيکه او ترکيب شته. د هغو اوازونو په وجه چې وييونه ورځخه جوړ شوي دي اساسي وييونه د فونېټيک سره ستره اړيکه لري او په دې اړيکو باندې ( Beharrung) ټينګار هم کوي. د يوې ژبې په فونېټيکي سيستم کې د يوه نوي اواز داخلېدل د هغو وييونو په منلو پورې تړلي دي چې په هماغه ژبه کې نوموړی اواز لري.

د دواړو نړيوالو جګړو ترمنځ کلونو کې رومانيايي ژبې ډېر زيات (Gallizismen) او همدا شان د فرانسوي ژبې يو شمېر ځانګړي اوازونه په پور واخيستل، دا چې دا وييونه د اساسي وييونو څخه د باندې پاتې شوي دي او په دې نه دي توانېدلي چې په وييپانګه کې خپل دريځ او موقف وټاکي په دې وجه دا پردي وييونه د رومانيايي ژبې فونولوژيکي سيستم ته نه دي ورننوتلي.

رومانيايي ژبې هم د لاتين ژبې د (h)(هـ) نخښه له لاسه ورکړې ده، خو هغه سلاوي وييونه يې اخيستي دي چې د (h) غږ يې منلی دی. ځکه نو (h) د اواز د ناستې ولاړې حالت د رومانيايي ژبې په فونېټيکي سيستم کې ډېر Fest محکم نه دی.

بنسټيز يا اساسي وييونه د مورفولوژي سره هم ډېرې نيږدې اړيکې لري. د Artikel ارټيکل ډېره ستره برخه، Pronomen، Grundzahlen، Adverbien، Praepositionen او Kanjuntionen په اساسي وييونو پورې اړه لري. په ټوله کې د وي دغه ډولونه ډېر مداوم او پاتې کېدونکي دي.

په اساسي وييونو پورې د هغو وييونو ګټګوري هم تړلې ده چې په Flexion ګردان کې بې قاعده‌توب لري. ټول بې قاعدې وييونه په اساسي وييونو پورې اړه لري. که چېرې دوی اکثراً او د هر شخص له خوا نه وای کارول شوي، نو موږ به د عمومي چوکاټ څخه لوېدونکي

فورمونه، نه وای ساتلي. په دې وجه بې نظم او بې قاعدې وييونه خپل بې قاعده‌توب داسې ساتي لکه څنګه چې په اساسي وييونو کې پاتې کېدونکي دي.

د Sein شتوالي(بودن) کړ په ډېرو ژبو کې ډېر نامنظم دی د ساري په ډول په جرمني ژبه کې bist، bin، qewesen، war، sind، ist او په انګرېزي کې د were، was، is، are، am په بڼو ځان ځرګندوي. په رومانيايي، فرانسوي او نورو ژبو کې يې هم مثالونه شته، دا چې sein د مهمو وييونو څخه يو ويی دی هيڅ داسې فکر او نظر نشته چې له مخې دې لرې او محوه دې شي. بې قاعدې وييونه ډېرې وخت بدلونونه زغمي: ځينې يې تر يوه بريده پورې او يو شمېر يې په بشپړ ډول باقاعده کېږي، يوه برخه (شمېر) يې له مخې لرې کېږي او په منظمو وييونو سره عوض کېږي. اوس موږ دا پوښتنه کوو چې د عناصرو يا توکو مورفولوژيکي بدلونونه (نويوالی) د بنسټيزو وينو څخه ووځي؟ په مورفولوژي کې د بدلونونو په برخه کې د پيل په توګه بنسټيز وييونه پرېکنده رول لري، په داسې حال کې چې د Vokabular ګڼوالی د بدلون (نويوالي) د پراختيا او عموميت لپاره Boden (تلی) برابروي. د وې پانګې وييونه په عمومي بدلونونو کې مقاومت کوي او په هماغه وخت کې د نويو وييونو لپاره د ګردان Muster نمونې دي. سرې کولای شي ووايي چې بنسټيز وييونه بدلون کوي تر څو چې مورفولوژي لا مرتبه شي او په همدې علت بنسټيز وييونه داسې يو فکتور دی چې د ژبې پايښت يقيني کوي.

د Vokabular د پاتې شونې پر وړاندې د ژبې د بنسټيزو، وييونو د بريد يا پولې ټاکنه عملي معنا لري. په ټوله کې د ژبو مقايسه کوونکو د ژبو د خپلوۍ په برخه کې په خپلو اوړدو خبرو اترو کې Vokabular ته پاملرنه، نه ده کړې او يواځې را اخيستې برخې يې وليدې او وې کتې، ځکه نو د دوی لپاره په دوو ژبو کې د سره ورته وييونو

۲مخ

## د رحمت الله درد د "غزل" ببلا ببلې خواوې

نوراجان بهير

څوک پېغمبر شي، څوک شاعر شي درده
په چا غزل، په چا کتاب نازل شي

لکي مروت د کوزې پښتونخوا هغه سيمه ده چې په ادبي نړۍ کې د دوو نومياليو شاعرانو عبدالرحيم مجذوب او پروفيسر رحمت الله درد له امله ډېره پېژندل کېږي، په دې سيمه کې په لسګونو نور شاعران او ليکوال هم د ژبې او ادب د ودې او پرمختګ لپاره ادبي او علمي خدمتونه کوي، خو ياد دوه هغه شخصيتونه دي چې په دې سيمه کې يې د نوي پښتو شعر زړې را ټوکولې دي.

درد وايي، چې په څوارلس کلنۍکې به يې د هغو اردو شاعرانو په مشاعرو کې ګډون کاوه چې تازه په ۱۹۴۸ ميلادي کال د هند تر وېش وروسته را کډه شوي او د دوی په سيمه کې مېشت شوي وو. په مشاعرو کې ګډون په ده کې هم د شعر ليکلو تنده را وپاروله او هغه وو چې په اردو شعر ليکلو يې پيل وکړ، خو وايي، ډېر ژر يې د خپل استاد سيد تقويم الحق کاکاخېل په هڅونه او غوښتنه پښتو شعر پيل کړ او څه دپاسه شپېته کاله يې پښتو شاعري وکړه.

د شاعرۍ په اصنافو کې له غزل سره د درد د مينې راز له دې هم معلومېږي، چې خپله لومړۍ شعري ټولګه يې " **غزل** " نومولې؛ ما يې دلته پر همدې ټولګه (غزل) لنډ څه ليکلي، هيله ده د خوښې وړ مو وګرځي.

**۱-۱. غزلبول درد**

پښتو معاصر ادب کې له غزل بابا حمزه شينواري وروسته، په کوزه پښتونخوا کې د ګوتو په شمار څو نومونه دي، چې غزل يې د معيار تر حده پاللی دی، په دې ډله کې يو هم درد دی، چې شاوخوا شپېته کاله يې پښتو غزل ته د زړه ويني ورکړې.

د لکي مروت سيمې شاعر او د پروفيسر درد نږدې ملګرى نادرخان عليل وايي: پروفيسر درد په غزل کې د روايت او نوښت تر منځ امتزاج ساتلی و: **"د غزل په حواله د ښاغلي درد** نوم ډېر لوی و او درد غزل ته يو نوی رنګ

ورکړی و، د روايت رنګ هم په کې و او له روايت سره جدت (نوښت) هم په کې و، داسې غزل په پښتو کې ډېر کم ليکل کېږي، بل دا دی چې د ده غزل د عامو او خاصو دواړو لپاره دی او په غزل کې يې ډېر څه دي".

دلته يې له يادې "غزل" ټولګې يو غزل د بېلګې په توګه را اخلو:

زړه کې محبت او سپينه خوله کې اور
کاڼي کې اوبه او په اوبه کې اور
دا خو تا په سرو لبو اوبه څښلي
ما وې څنګه بل شو په وياله کې اور
اور مې په زړه پورې کړو تنکي ارمان
لګي له ماشوم نه په کاله کې اور
زړه زما کيسه چې بيا ورياده کړه
سوړ شو له جينکۍ نه تناره کې اور
کله چې پښتو ته کيسه ورسي
راشي چې له کومه پښتانه کې اور
هله که د درد غزلې وچېږئ
خوند کوي د ژمي په ساړه کې اور
"ګل" درنه رخصت شو، درده وژاړه
خدای ته ګوره مه ساته په زړه کې اور (۲: ۴۱)

**۲-۱. د درد نظم نما غزل**

د نوي غزل په اړه دا مشهوره ده، چې هر بيت يې ځانته موضوع رانغاړي، خو درد په خپل غزل کې د زاړه غزل يو خصوصيت هم ساتلی او هغه دا چې تر ډېره يوه موضوع تعقيبوي، خو توپير دا دی، چې په دومره نوي او ښل انداز چې په غزل کې يې تکرار نه محسوسېږي او له هر بيت يې بېل خوند اخيستل کېږي.

دلته يې همداسې يو غزل نمونه راوړو، چې د پيغام موضوع يې يوه ده، خو هر بيت يې بېل کيف لري:

پښتو پالي، غيرت ګټي، درانه وي ځينې خلک
مين په نام ونګ وي، پښتانه وي ځينې خلک
اسمان يې په سر تندر ورو‌ي، که سپينې واورې
ولاړ په خپل مقام لکه د غره وي ځينې خلک
منمه چې ځان خوړ دی، له هر څه نه له هر چا نه
خو خدای شته چې له ځانه هم خواږه وي ځينې خلک
تر عمره لا حاصله انتظار د جوهري کړي
ايرو کې د هيرو غونډې پراته وي ځينې خلک
په زړو کې يو نيم وي چې هر چا لره مشال شي
ډيوې وي، خو د کور او د کاله وي ځينې خلک
چينې د محبت يې وي رواني په سينو کې
هر څو که په ظاهر لړ تراخه وي ځينې خلک
ارمان د بيا ليدو يې "درده" پاتې شي، دوی لاړ شي
د "ګل" غونډې د ورځو ميلمانه وي ځينې خلک (۲: ۴۷)

يادونه: احسان د ښاغلي درد يواځينی زوی و، چې ځوانيمرګ شو، ده به له نازه ګل ورته ويل، د دې غزل وروستي بند او نورو غزلونو کې يې هم ذکر راغلی.

صدمه د "ګل" د تلو له قيامت نه کمه نه وه
دنيا ترمخه "درده" خنديدل هم ضروري وو
هر خوا ته د "ګل" د ياد اورونه دي
کور دی، که پارک دی، که دالان دی درد

**۳-۱. ملتپال درد:** اروابناد درد د شلمې پيړۍ له دويمې نيمايي نه د يوبشتمې تر لومړنۍ لسيزې داسې مهال شاعري کړې، چې په سيمه کې يې پښتو او پښتنو محکوم ژوند لاره، ځکه يې خپل قوم ته هنري پيغامونه ورکړي.

دلته يې پر څو بېلګو تم کېږو:

د سيند په غاړه اوسيدونکي خلک
له تندې مره شول بارانونه غواړي
تش په نارو انقلاب کله راځي
پاس په نېزو يو څو سرونه غواړي
دا مو کوم خلک د چمن واکمن کړل
موږ ته ازغي، ځان ته ګلونه غواړي

يا دا چې

خپل مسيحا ته هر سرى په انتظار ولاړ دی
يو زه خو نه يم زما شاته واړه ښار ولاړ دی
رهبره! څوک به داسې لار ته د حق لار ووايي
چې نه ديوال مخې ته راغی او نه دار ولاړ دی

يو بل ځای وايي

د وطن غنه غنه ستايم، نو باغي په څه يم
په دې چمن باندې شيدا يم، نو باغي په څه يم / ۳مخ

څېړنوال محمد اصف احمدزی

## فرهنګي، ادبي او تاريخي شخصيتونه ولې نمانځل کېږي؟

زموږ په ټولنه کې هغه اشخاص چې له فرهنګي، ادبي او تاريخي مسايلو سره يې سروکار وو او دی، د هغوی په ژوند يا له مړينې وروسته يې د زېږېدو کاليزې نمانځل کېږي او که له دې نړۍ يې کډه کړې وي، د مړينې يادغونډې او تلين‌غونډې يې جوړېږي او يا يې هم د کړي علمي- فرهنګي کار په اړه علمي- تحقيقي سيمينارونه دايرېږي.

د نورو مسلکونو په پيروانو کې بيا دغسې جذبه او تحرک ډېر نه ليدل کېږي چې د خپل مسلک يو پوه او دانشمند چې په خپله رشته او مسلک کې يې که څه هم ډېر خدمت کړی وي، ونمانځي.

دا چې له فرهنګي، ادبي او تاريخي مسايلو سره د منسلکو دانشمندانو ياد تل تازه وي، څو علتونه لري:

يو دا چې دوی په خپلو آثارو کې د خپلو احساساتو او عواطفو أظهار کړی او طبيعي ده چې همدغه عواطف او احساسات د يوه ټاکلي چاپېريال زېږنده دي، نو دغه آثار د ټولنې وګړو ته په زړه‌پورې وي، خپل يې ګڼي او داسې يې بولي، لکه د ده خپلې انګېرنې او عواطف.

بله دا چې، کومې تجربې چې دوی يې لري يا پرې تېرې شوي او هغه يې په شعر او ليکنې کې خوندي کړې وي، دا هماغه تجربې دي چې اوسنی يا راتلونکي نسلونه هم ورسره مخامخ کېږي، چې په دې سره دا دواړه نسلونه ذهناً او فکراً سره نږدې کېږي. همدا ده چې راتلونکي نسلونه د خپلو پخوانيو اسلافو قدرَونه او ستاينه کوي.

دريم دا چې په فرهنګ، ادب او تاريخ کې هغه مسايل څېړل کېږي چې د يوې ټولنې مشترکات بلل کېږي؛ که يو اديب د پښتو ادب په لرغونې دورې غږېږي، نو هلته بيټ نيکه ياديږي چې دا د ټولو پښتنو وياړ دی؛ که د رحمان بابا يا خوشحال خټک خبره څوک کوي، نو د هغوی هر بيت او خبره د اوس زمانې په هر وګړي خوره

۲مخ




**لیکوال: پروفیسر انور جمال**

**ژباړه: نازو کمال**

**۶۱. تجسیم (Personification)** هغه ځیزونه چې لیدل کېږي نه، خو په فزیکي یا مادي جسم کې یې بیانوي، تجسیم ورته وایي. ژوند، مرګ، کرکه، غوسه، خوښي، وېره، غم او داسې نورو ځیزونو ته د انساني ځانګړنو ورکول په تجسیم کې راځي. د مثال په ډول: خوښي ووایي زه په نړۍ کې د ټولو انسانانو لپاره یم، غم وایي: له ما پرته خوښي بې معنا ده، چې د ادبیاتو په نړۍ کې د تجسیم ډېرې او په زړه پورې بېلګې لوستلی شو.

**۶۲. ساختیات (STRUCTURALISM)**
د اجزاوو ترتیب ته ساختیات وایي، خو څه موده کېږي چې دا اصطلاح یوازې د ژپوهنې لپاره کارول کېږي. د دې پر اساس د لوستونکي او پنځونکي تر نظریاتو، خیالاتو، مهارت او روش څخه د ژبې ترتیب او جوړښت ته لومړیتوب ورکول کېږي.

**۶۳. سانېټ. (SONNET)**
سانېټ ځانګړی غربي شعري فورم دی، دا نظم څوارلس مسرې لري، ټولې په یوه بحر کې ویل کېږي. د سانېټ د لیکلو دود د مډرنیزم تر اغېز لاندې راغی، چې پر اساس یې ښکلي سانېټ نظمونه ولیکل شول، خو اوسمهال شاعران ډېره پاملرنه نه ورته کوي. د سانېټ د اساسي جوړښت ورهاخوا نور سانېټونه هم لیکل شوي چې په هغو کې د قافیې د مراعتولو بندیز نه شته. سانېټ په لومړي ځل په ایټالیا کې رامنځ ته شو او بیا وروسته د بېلابېلو ژبو او هېوادونو شاعرانو هم په دې برخه کې تجربې کړې دي.

**۶۴. سرقه. (PLAGIARISM)**
چې په شعوري او قصدي ډول د کوم شاعر فکر او خیال په خپل شعر کې راوړل شي، سرقه یې بولي. څرګند هدف یې همدا غلا ده. یعنې ادبي غلا یې هم ګڼلی شو. د سرقې د معلومولو پر وخت ادبپوهان له ډېرې حوصلې او نېک نیته کار اخلي او هڅه کوي چې د توارد (په تصادفي ډول د کومې موضوع یوه برخه یا ټوله موضوع دوه شاعران یو ډول بیان کړي) نوم ورکړي، بیا هم دا د نیت خبره ده او د شاعر له نیته څوک نه شي خبرېدای چې ده په کوم نیت یوه موضوع په خپل شعر کې راوړې کړې ده. په دې اړه د غالب شعر ډېر په زړه پورې دی.

مبر ګمان توارد یقین شناس که دزد
متـاع من زنهان خـانه ازل برداست

**۶۵. سلیس . سلاست (LUCID/ LUCIDITY)**
دا کره کتنیزه اصطلاح ده. سلاست د نثري لیکنو یوه ځانګړنه هم ده. د لیکنې لپاره د داسې مناسبو او موزونو کلمو راوړل، چې معنا یې آسانه وي او خپل مفهوم په اسانه رسولی شي. سلاست له ساد‌ګۍ نه رامنځ ته کېږي. تر ټولو د اسانو کلمو کارونه په اصل کې رواني رامنځ ته کوي، د دې لپاره چې لیکنې مو سلاست ولري، خیال هم باید دقیق وي، پېچلی نه وي او کلمې خو باید داسې استعمال شي چې ورځنۍ محاورې ته ډېرې نږدې وي.

**۶۶. سهل ممتنع . (INIMITABLY EASY)**
شعري اصطلاح ده او داسې شعر ته ویل کېږي، چې په دومره اسانو کلمو کې ویل شوی وي چې تر دې ورهاخوا نور د سلاست ځای په کې نه وي. هغه شاعران چې شعرونه یې د سهل ممتنع ځانګړنه لري، شعرونه یې د اغېز قوت هم لري، یعنې د شاعرۍ تر ټولو ساده بیان ته سهل ممتنع ویل کېږي.

**۶۷. شاعر . (POET)**
کوم کس چې شعرونه لیکي، شاعر ورته وایي. ظاهرآ به یې طبع ارامه او موزونه وي، خو یوازې موزونه طبع د شاعر بللو لپاره بسنه نه کوي. شاعري د احساساتو او تخیل ژبه ده، د شاعر لپاره د تخلیقي بیان ځانګړنې اړینې دي، په عربي کې شاعر ته تلمیذ الرحمان وایي، د دې پر اساس د شاعر هغه خدای ورکړي استعداد ته اشاره ده چې خدای پاک فطري ورته ډالۍ کړی دی. ورې زورت د شاعر لپاره څلور ځانګړنې ټاکلي دي:

۱. په روح کې یې ځانګړی ترنم وي.
۲. فکر یې د ژور احساس تر اغېز لاندې وي.
۳. موضوع یې تر عامو خلکو لوړه وي.
۴. په خیال کې یې فلسفي ژورتیا هم محسوسه وي.

په داسې حال کې چې (حالي ) تخیل، مطالعه، فطرت او د کلمو د استعمال سلیقه هم د شاعر او شاعرۍ لپاره مهم ګڼي.

**۶۸. شعر (VERSE)** عروض د شعر شکل او منطق د شعر معنا ته ارزښت ورکوي او د همدې پر اساس یې تعریفوي. عروض موزون کلام شعر ګڼي، خو منطق هغه کلام شعر ګڼي چې اغېز ولري. عروض د منطق او منطق د عروضو له تعریف سره همغږی نه دی. ځکه هغه کلام چې وزن او بحر ولري عروض یې د شعر په توګه مني، په هغه کې که تاثر او اغېز وي یا نه وي مهم نه دي، خو منطق یې پر خلاف دی او هغه کلام ته بشپړ شعر وایي چې هم موزون وي او هم پر لوستونکو اغېز پرېباسي.

**۶۹. شوخي:** داسې یو ظرافت چې له فلسفې، نصیحتونو، اصلاح او کره کتنې څخه خالي وي، یوازې ادبي او ذهني خوښي ولري، شوخي یې بولي. همدارنګه څه نا څه نرمي او ټوکې هم په کې شاملې دي.

**۷۰. شمسي توري:** داسې توري چې الف او لام په کې وي او ونه لوستل شي، شمسي- توري یې بولي. لکه: په الشمس، التوحید، ذوالنورین کې (ش، ت، او ن). همدارنګه شمسي حروف ۱۳ (ت، ث، د، ذ، ر، ز، س، ش، ض، ط، ظ او ن) دي.

**۷۱. شهر آشوب (POEM OF RUINED CITY)**
د نظم یو صنف دی، چې لفظي معنا یې د ښار شور او فتنه ده. هغه نظم ته ویل کېږي، چې د کوم هېواد، ښار یا ټولنې اقتصادي، سیاسي یا ټولنیزې ستونزې او د بېلابېلو طبقو د ژوند بېلابېلې خواوې په طنزیه بڼه په کې بیان شي، شهر آشوب ورته وایي. شهر اشوب د سیاسي او ټولنیز انحطاط منظوم فریاد دی. د دې لپاره کوم ځانګړی فورم نه دی ټاکل شوی، خو د مثنوي فورم تر ډېره ښه ورته ګڼل کېږي، خو په مسدس، مخمس او ځینو نورو فورمونو کې لیکل شوي دي. د موضوع له پلوه هغه بحران او ګډوډۍ چې د یوې سیمې د ملوک الطوایفي په پایله کې رامنځ ته کېږي د هغو بیان په ځانګړي ډول د کارګرو، کارکونکو او نورو کسانو د خپګان یادونه هم په کې شامله ده. د بشر د تاریخ په څېر د شهر آشوب تاریخ خو ډېر پخوانی دی، خو د نننی وخت شهر آشوب د انساني ذات نهیلي، مایوسي او ارواپوهنیزو مسایلو بیان او فریاد دی.

پاتې برخه په بله ګڼه کې

# د ژبې بنسټیز وییونه او ...

موجودیت په هیڅ صورت هم د دوی ترمنځ د خپلوۍ Beweis ثبوت نه و، ځکه کېدای شوه چې هماغه یو ویی به یوې ژبې د بلې څخه اخیستی وي.
تاریخي- مقایسوي میتودونه په مورفولوژي او فونټیک باندې تکیه کوي، نن ورځ هم بنسټیز وییونه په ژبنۍ مقایسه کې ډېر مهم فکټور دی دا ځکه چې بنسټیز وییونه مداوم یا همېشني دي او د ګرامري جوړښت سره په ګډه د ژبې مواد او خاصیت یې شرحه کوي.
که چېرې موږ د isolierende بېلېدونکو ژبو او یا هم د داسې ژبو سره سر وکار ولرو چې د هغوی ګراري جوړښت موږ ته لږ او یا هم هیڅ معلوم نه وي بیا هم په ځانګړي ډول دا وېلای شو چې د اساسي وییونو بېلابېلې برخې د مقایسې بنسټ جوړوي.
اساسي وییونه باید چې په ډېر دقت او غور سره د هغه کسانو له خوا وپلټل شي چې د ټولو درجو (ټولګیو) د زده‌کوونکو لپاره د بهرنیو ژبو د تدریس کتابونه چمتو کوي. د لوستلو لپاره مواد او توکي باید داسې غوره شي چې د زده‌کوونکو سره تر هر څه د مخه د نوې ژبې د اساسي وییونو په خپلولو کې مرسته وکړي.
دا په دې دلیل هم اړین دي چې بنسټیز یا اساسي وییونه مهم دي او د دوی پر بنسټ ډېر نوي وییونه جوړېدای شي. په اوسني وخت کې تل د وییونو د یوه داسې اساسي فهرست په باره کې خبرې کېږي چې ډېرې وییونه ورپورې اړه لري. د یوه لیکسیکولوژیک ګروپ دا ډول برید چې یواځې د Frequenz د نخښې څخه وروسته ترسره شوی دی کولای شي چې د بهرنۍ ژبې د تریس او زده کوونکو په چوپړ کې واوسي (باید چې په لومړي سر کې شته وییونه تر کتنې لاندې ونیول شي) او لکه څنګه چې ښکاري کولای شي چې د یوې ژبې او یا د یوه شخص د ژبې د وظیفوي سبک د ډول د څرنګوالي په ښودلو کې ونډه واخلي.

۱. د فرانسوي ژبې عناصر چې په بله ژبه ژباړل شوي یا اخیستل شوي وي. دا کلمه لاتین ژبې ته د کېښتي (kiltisch) څخه ورغلې ده.
۲. له اره د لاتین ژبې ویی دی. فرانسوي ژبې ورڅخه اخیستی دی او دغه لاندې معناوې لري:
د نورD د جوتولو لپاره کارول کېږي. Der د نرینه لپاره، Dieد ښځینه لپاره او Das د مخنث لپاره. دا درې واړه ارټیکله اوس هم په جرمني ژبه کې کارول کېږي او که و نه کارول شي د جنس یا نورD توپیر په هیڅ صورت نشي کېدای. وړوکی مفصل یا بند، غړي او برخې ته هم وایي، د مضمون او مقالې په معنا هم کارول کېږي.
۳. Pronom په اصل کې لاتین ویی دی.
۴. Grunalzahlen بنسټیزو یا اصلي عددونو ته وایي. په الماني ژبه پورې اړوند ویی دی.
۵. Adverb لاتین ویی دی. په جرمني ژبه کې یې کله کله پر ځای د umstandswort لغت هم کاروي چې یو حالت یا وضعیت په ګوته کوي.
۶. Praepositionenژبنی عناصر دي چې د کړنو (فعلونو) سره کارول کېږي. **/ د مقالې پای**

# فرهنګي، ادبي او ...

لګېږي؛ همداسې که د احمدشاه بابا یا میرویس نیکه د سرښندنو او مبارزو بحث کېږي، نو د ټولو سرونه ورسره جګېږي او افتخار پرې کوي چې که یو څوک همدغه ډول موضوعات لیکي یا یې خوندي کوي، نو خپل تېر میراث یې ګنې او لیکونکي ته یې په درنه سترګه ګوري.
زرین انځور لیکي: »لیکوال او شاعر یواځې د یوه تنظیم په چوکاټ کې محدود نه وي، هغه د ټول وطن او ولس شاعر او لیکوال دی. هغه که د کوم ځانګړي سیاسي تنظیم غړی وي، هم د ټول وطن شاعر او لیکوال دی او که له سیاسي مشخصو هلو ځلو سره هیڅ مینه ونه لري او د هیڅ کوم سیاسي ګوند او تنظیم غړی نه وي، بیا هم د ولس شاعر او لیکوال دی، لږ تر لږه د ادبیاتو په سیمه کې د دغو توپیرونو ځای نشته۱.«
څلورم دا چې په هره ټولنه کې له مادي مسایلو او وسایلو ور اخوا معنویات هم د ټولنې له دوو وزرونو څخه یو وزر دی او همدغه معنویات بیا د دیني پوهانو او عالمانو ترڅنګ فرهنګیان، ادیبان او مؤرخین هم پالي؛ اوسنی نسل او ځوانان ورسره اشنا کوي او په دې برخه کې د هغوی پوښتنو، ګروېږنو او سوالونو ته ځوابونه وایي. دا کار هغوی پرته له دې چې مادي ګټه په پام کې ونیسي، د زړه له کومي یې کوي. دغه موضوع په رسنیو کې ښه ثابتېږي. زموږ همدغه معنوي طبقه په وړیا او پرته له دې چې کوم مادي امتیاز په نظر کې ولري، په تلویزیون، راډیو او آنلاین بحثونو کې علمي، فرهنګي او ادبي مسایل په پوره متانت او جذابیت سره وړاندې کوي.
موږ که د ادبیاتو رول ته متوجه شو، ادبیات د ټولنې هغه واقعیتونه او منظرې دي چې په بېلا بېلو ادبي چوکاټونو او ژانرونو کې قلمبندي کېږي. د ادب له لارې یوه ټولنه یا ولس معرفي کېږي، نو څوک چې په ادبي چارو بوخت پاتې شوی، په حقیقت کې د ټولنې پر نبض پوه شوی او هغه یې نورو ته ور معرفي کړې دي.
همدغسې یو شخص بیا د نورو مدیون او پوروړی وي او هغوی یې بیا دغه پور په داسې طریقه ادا کوي چې تل د هغوی په زړونو کې وي او نمانځي یې. همدا ده چې پوهاند ازمون لیکي: »د یوې ټولنې د پېژندګلوۍ لپاره یو بنسټ یا پېژندپاڼه هم ادب دی. د ادب فلسفه د ټولنې بېلا بېل ذوقونه او د ذوقونو له لارې نسلونه سره تړي. بېلا بېلې طبقې، د هغوی غوښتنې، هیلې، ارمانونه، موخې، احساسات، عواطف، تفکر او تخیل را ښیي. ژبنی هنر یې چې د نسلونو ترمنځ اړیکوال پاتې شوی، هغه را پېژني۲.«
او همدا علت دی چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت هر کال د فرهنګي، هنري او ادبي آثارو لیکوال او پنځوونکي ستايي او جایزې ورکوي.

**مأخذونه**
۱. زرین انځور، د ثور په تراژیدۍ کې فرهنګ، ادب او آزادي، د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه: پېښور، ۱۳۷۲هـ. ش، ۸۷ مخ.
۲. لعل پاچا ازمون، د ادبیاتو فلسفه، د افغانستان د علومو اکاډمي، الهام نبي زاده مطبعه: کابل، ۱۳۹۹هـ. ش کال، ۵۸ مخ **/ د مقالې پای**

# هغه ټکي چې په لیکوال جوړېدو کې راسره مرسته کوي!

**ژباړه او زیاتونه: څېړنوال رحیم الله حریفال**

ډېری انسانان غواړي چې څه ولیکي، له یوې خوا غواړي هغه څه چې ده احساس کړي او هغه څه چې د ده په زړه کې دي، له نورو انسانانو سره شریک کړي او له بل لوري غواړي، چې په لیکنه او لیکوالۍ سره خپل نوم د فرهنګ او تاریخ په سینه کې خوندي کړي، اما دا وړتیا یعنې لیکل او لیکوالي بیا ډېر لږ انسانان لري، خو دا په دې معنا هم نه ده چې موږ ریاضت او هڅه پرېږدو، ځکه همدغه هڅه او ریاضت زموږ پټې وړتیاوې راښکاره کوي او د کوښښ په پایله کې کولای شو، یو ښه لیکوال له ځانه جوړ کړو. دلته د حسن تذکیر له مخې غواړو په لنډه توګه، څو هغو ټکو ته اشاره وکړو چې له موږ سره په لیکوال جوړېدو کې مرستندویه واقع کېدای شي.

### د لیکلو استعداد

په لیکوالۍ کې کله نا کله د استعداد خبره هم مطرح کېږي، یو څوک کېدای شي، استعداد ولري او په آسانۍ سره لیکنه وکړي، ولې هغه څوک چې له لیکوالۍ سره مینه لري، هغوی هم کولای شي، د ریاضت په پایله کې ښه لیکوال شي.
رابرټ: وایي (۱۵) کاله وروسته په دې پوه شوم چې د لیکلو استعداد نه لرم، خو لیکوالي مې پرېښودلای شوه، ځکه چې مشهور شوی وم. د رابرټ له قول راوړل څخه مو موخه دا ده چې د نورو برخو په څېر په لیکوالۍ کې هم انسان کولای شي د ریاضت له لارې ښه لیکوال شو.

### د ژبې زده کړه

زیاتره وخت موږ او تاسو وایو چې ژبه مو زده ده یا هم داسې فکر کوو چې دا خو مو مورنۍ ژبه ده او مورنۍ ژبه خو د هر انسان زده وي، خو دا بسنه نه کوي، په کار ده چې زده کړې ته یې جدي پام وکړو. په کومه ژبه چې غواړو لیکوال شو او لیکنه پرې وکړو، پر هغه ژبه باید هم سم وغږېږو او هم سم لیکل پرې وکړلای شو.
همینګوی به ویل: د هرې کلمې په لیدلو داسې حس کوم چې لومړی ځل دا کلمه ګورم او مومم. هو لیکوال هغه څوک دی چې د ژبې له ارزښت څخه تر بل هر چا ښه او په بشپړه توګه خبر دی.

### ورځني یادښتونه اخیستل

**تولستوی:** له کلونو زیار او زحمت وروسته، د لیکوالۍ په ډګر کې شهکارونه وپنځول، هغه د شاهکارونو له تخلیقولو وړاندې لس کاله ورځني یادښتونه واخیستل او له هغه وروسته بیا د یوه مشهور لیکوال په توګه ومنل شو.

### ورځنۍ خاطرې لیکل

آدوانو به خپل خوبونه او خیالونه لیکل او د هغه د خوبونو ټولګه هم چاپ شوې ده، ورځنۍ خاطرې په لیکوالۍ کې له ځانګړي ارزښت څخه برخمې دي، د سترو لیکوالانو په ادبي ژوندانه کې هم ورځنۍ خاطرې لیکل له ځانګړو او په زړه پورې بابونو څخه دي. انسانان په فطري توګه له تېر ژوند او د نورو انسانانو د ژوند له کیسو سره مینه لري او کومو لیکوالانو چې د خپل ورځني ژوند خاطرې خوندي کړي او لیکلي دي، له کلونو وروسته ځانګړي مینوال او لوستونکي لري.

### د نورو آثار او کتابونه لوستل

پراخه مطالعه تاسو د مطالبو د بیان لپاره له بېلابېلو لارو سره اشنا کوي، کله نا کله موږ له دې وېرې چې د نورو لیکوالانو اغېز پر موږ ونه شي، نور آثار نه لولو.
لیلا ګلستان وایي: چې دا وېره موږ له کومه ځایه کړې، د هنر کار خو تاثیر پرېښودل دي. دا تاثیر پرېښودل او اخیستل کاپي کول نه دي، بلکې ستاسو د لید او نظر پراخوالی دی.

### جزئیات لیکل

د لیکوالۍ یا داستان لیکلو موخه دا نه ده چې موږ خلکو ته پند ورکړو، بلکې موږ ژوند یو ځل بیا د ذهن پردې ته راولو او را ژوندی کوو یې، نو د ژوند جزئیاتو ته باید کوز شو او همدا جزئیات نور لولي او له لوستلو څخه یې خوند اخلي، کله که تاسو په یوه کیسه کې د اتل په اړه عمومي خبرې کوئ او همداسې په منډه ترې تېرېږئ، ممکن لوستونکی له اتل سره هېڅ خواخوږي پیدا نه کړي او یا هم امکان لري، کیسه تر پایه ونه لولي او که دې برعکس تاسو د اتل د ژوند جزئیاتو ته ور کوز شئ او هغه را واخلئ، نو د همدغو جزئیاتو په بیانولو سره تاسو له اتل سره د لوستونکو احساسات ملګري کوئ او خواخوږي یې را پاروئ، همدا د جزئیاتو اغېز دی چې ستاسو کیسه او داستان په زړه پورې کوي.

### د وخت مدیریت

د وخت مدیریت د یوه لیکوال لپاره ډېر مهم دی، په ډېرو بوختیاوو کې څو تازه کرښې ولیکئ او بل دا چې لیکوالي د یوې ورځې او یوې میاشتې او یا هم د یوه کال د هڅو پایله نه وي، بلکې د کلونو په پایله کې د لیکوال آثار او پنځونې، دې کچې ته رسېږي چې په ټولنه کې مطرح شي او لوستونکي ومومي.
آنتوني ترالاپ: په هرو پنځلسو دقیقو کې درې سوه کلمې لیکلې او په همدغه معیار نوموړي په ورځ کې درې ساعته لیکل کول او هغه هم مخکې دندې او ادارې ته له تګ څخه چې د نوموړي اصلي دنده وه.
یاد لیکوال په همدې ترتیب د تاریخ یو له مشهورو لیکوالانو څخه شو. **/ د مقالې پای**

# لنډې جملې سترې معناوې

* تل خوشبین اوسه، که څه هم ډېرو ستونزو محاصره کړې یې،ځکه هر ماښام سهار لري، او هره ستونزه دحل لار.
* تر خبرو کولو مخکې فکر کوه، ځکه ځینې کلمې وژونکې وي.
* دخدای ﷻ درضا لپاره له خپل نفس سره مبارزه کوه ځکه نفس تل داسې غوښتنې کوي چې د الله ج د خواشینې سبب ګرځي.
* دمور او پلار لاسونه ښکلوه، دغه کار جنت ته، د تګ لپاره یو سبب کېدلی شي.
* صدقه کوه، ځکه صدقه تر ټولو ښه کار دی او تر نورو ښه صدقه؛ ښه او نېکه خبره کول دي.
* هره ټولنه د هغې ټولنې په عالمانو او پوهانو ښکلې وي، د همدې ښکلا لامل دا دی چې عالمان د مثبت فکر پر بنسټ نېک کارونه ترسره کوي، وګړي ترې پند اخلي او ټولنه پرمختګ مومي. / د زېري اداري راټولونه

# د ادراکي گرامر له مخې ...

غونډ رامنځته کوي او که فعل وي، فعلي غونډ جوړوي (زيار، ۱۳۸٦: ۲۲٦)، مثلا په "کليواله ښځه" کې "کليواله" اړونده ده او "ښځه" زړی دی، ځکه چې پاملرنه ټول دې ټوک ته اوړي.

که د اوږده غونډ په کچ يې وگورو، په لاندې غونډ کې درې نومه دي: يو "نجلۍ" ده، بل "تمځی" دی او درېيم "زړوکی" دی:

الف: يوه نجلۍ په تمځي کې د زړوکي د اوبدو په حال کې[2]

په "نجلۍ، تمځي او زړوکي" درو نومونو کې يوازې يو زړی دی، دا راته خپل ادراک وايي، چې په دې غونډ کې کوم يو زړی دی او دا غونډ څه شی تشريح کوي او هغه يو ډول زړوکی او تمځی نه دی، بلکې يوه نجلۍ ده؛ نو د نجلۍ لپاره دا نور نومونه اړوندونه دي، پر دې سربېره، د فاعل- فعل سمون هم د يوه نوميز غونډ زړی راښيي:

الف: زړوکي گنډوونکې نجلۍ هلته ده،

په دې بېلگه کې وينو، چې فعل(ده) د ډېرگړي(زړوکي) لپاره نه، بلکې د يوگړي "نجلۍ" لپاره گردان شوی،

په دوديز ډول اړوندونه په دوو ډلو وېشل کېږي، يو ته بشپړاند[3] و بل ته ټاکندويان[4] وايي، بشپړاند د غونډ د کچې واحدونه دي، چې له مانيز او جوړښتي پلوه زړی بشپړوي، مثلا يو سربل له نوميز غونډ پرته نابشپړ دی، نو نوميز غونډ د سربل بشپړاند دی، ټاکندويان هم د غونډ په کچ غورني واحدونه دي، چې د زړي په اړه زياتې معلومات وړاندې کوي، په پاسنۍ بېلگه کې "په تمځي کې" او "د زړوکي د گنډو په حال کې" د "نجلۍ" لپاره ټاکندويان دي، په دې ډول وېيز ټاکندويان او څومره يېزونه هم په يوه نوميز غونډ کې اړوندونه دي، چې زېړند ژبپوهان ورته مشخصوونکي وايي، ځکه چې اړوند د يوه زړي د تطبيق وړتيا مشخصوي، موږ په تېرو درسونو کې ويلي وو، چې وېيز ټاکندويان او څومره يېزونه تر اړوندونو زيات د زمينه سازۍ توکي دي، په دې برخه کې به هم په غونډ کې د دوی پر دندو يو څه خبرې وکړو.

د لنگکر په ماډل کې څلور آر فاکتورونه دي، چې ظرفيت ټاکي: (۱) سمون[5]؛ (۲) د پروفايل ټاکنه[6]؛ (۳) مفهومي خپلواکي د مفهومي تړاو پر وړاندې[7]؛ او (۴) بنسټوالی[8]، چې په دې هر يوه جلا جلا بحث او خبرې کېدلی شي.

[1]. Valence
[2]. A girl at the bus stop knitting a scarf
[3]. Complements
[4]. Modifier
[5]. Correspondence
[6]. Profile determinacy
[7]. Conceptual autonomy versus conceptual dependence
[8]. Constituency/ د مقالې پای

# په وينا کې د گړدود مديريت

ايمل ښمر

زموږ ډېر وېناوال او ليکوال په وېناوو او ليکنو کې د خپلو سيمه يزو لهجو له کاروني سره لاس و گريوان وي او ځان نه شي تر ې ساتلی، دوی د وېناوو او ليکنو پر مهال دا هېروي چې دوی ته د يوه گړدود خلک مخامخ نه دي بلکې د لسگونو لهجو خلک ورته غوږ دي او ليکنې يې لولي، د لهجې د مديريت زدکړه او دې اصل ته پام لکيوالو په تېره بيا وېناوالو ته ځکه مهم دی چې د مطلب رسول او مفاهيمه اغېزناکه کوي او مخاطبينو ته يې پيغام او مطلب نېغ په نېغه رسېږي.

د دې لکينې موخه دا ده چې وېناوال د وينا، سيمينار او لېکچر ورکولو پر مهال د لهجې مديريت زده کړي او يوه اغېزناکه وينا وکړای شي يا دا چې يو وېناوال بايد داسې وينا وکړي چې پر خپلو مخاطبينو يې ډېر اغېز وکړي او د ده خبرې خپلې کړي، دا اغېز هغه مهال د وېناوال په وينا کې رامنځ ته کېږي چې بې له لهجې وينا وکړي. ډېری وخت پر يوې خاصې لهجې د هغو وگړو پوهېدل چې له هغې لهجې سره بلد نه وي، سخته چاره ده، کله چې پخپله ژبه بې له لهجې خبرې وکړو، زموږ له وېناوو به پوهاوی او اخيستنه زياته شي. کله چې موږ د دې وړتيا پيدا کړو چې په رسمي لهجه وينا وکړای شو،

نو پر ځان به مو باور ډېر او د وينا گټه به مو څو گرايه زياته شي.

**په وينا کې د گړدود مديريت**

گړدود څه ته وايي؟ گړدود به ژبپوهانو او گرامرپوهانو ډېر در پېژندلې وي، ښايي ډېر تعريفونه يې همدا اوس هم ستاسې زده وي، خو زه غواړم د لهجې پېژند لنډ او د لهجې له يوې بدۍ يا بدگڼې وکړم او هغه دا چې د الفاظو، ويونو، گړنو (اصطلاحاتو) او جملو د ارايې/کارونې هغه ډول چې زموږ په وينا (کلام) اغېزه وکړي او اورېدونکي/لوستونکي مو د څه ويلو پر ځای ځنگه ويلو ته توجه وکړي، لهجه بلل کېږي.

اوس پوښتنه دا ده چې آيا د لهجې لرل ښه دي که بد؟

لهجه ژبپوهانو ته خپل ارزښت لري او د ژبې د بډاينې لپاره اړينه ورته ايسي (ښکاري) خو که موږ په وېناکې لهجه يا سخته لهجه لرله/کاروله، نو وينا به مو لاندې ستونزې ولري (په ليکنه کې خو ښکاره ده چې لهجه لرل علمي او اصولي نادوده ده):

۱. که په وينا کې خپل خاص سيمه ييز گړدود ولرو شونې ده چې مفهوم او مطلب ښه و نه لېږدوو يا کېدای شي مخاطب (اورېدونکی) و نه پوهېږي چې موږ څه وايو.

۲. اورېدونکي مو سملاسي پرېکړه کوي چې دا څوک دی؟ دا ولې داسې وينا کوي؟ دا د کوم ځای دی؟ دا او دې ته ورته نورې لسگونه پوښتنې په ذهن کې ور گرځي چې دا بيا زموږ له کار او موخې سره د اورېدونکي اړيکې بيخي له بېخه باسي اونړوي، نو موږ بايد د وينا پر مهال داسې فضا را منځه ته نه کړو چې هلته خلک زموږ د وينا او مفهوم د اورېدو پر ځای، زموږ د شخصيت په اړه قضاوتونو ته وهڅېږي.

۳. بله ستونزه دا پېښيږي چې د مخاطب حواس بلې خوا ته ځي، د دې پر ځای چې زموږ خبرو او موضوع ته پام وکړي زموږ لهجې ته يې پام ور اوړي.

۴. لهجه لرل د مخاطبانو تمې منفي خوا ته بيايي، که مو په يوه رسمي ځای کې په يوه رسمي موضوع پخپله سيمه ييزه لهجه خبرې کولې، کېدای شي داسې کسان هم را ته غوږ وي چې له موږ سره يو ډول يا گډه لهجه لري نو ارو مرو به يې زړه کې دا تمه پيدا کېږي چې دا خو زموږ د لهجې سړی دی نو که ما خپل رسمي مکلفيت تر سراوه يا نه ، دی به مې غم خوري، نو په دې توگه به مو ډېر خلک لټ او له خپلو مسوولیتونو نه په تېښته روزلي وي.

بله پوښتنه دا را ولاړيږي چې ايا په وينا کې د لهجې مديريت د يو چا/يو قوم د فرهنگي هويت د له منځه وړلو په معنا دی؟

موږ بايد دا ومنو چې لهجه لرل اصلا ښه کار دی ځکه په زرگونو ژبني توکي، ترکيبونه او کلمې ترې په اسانۍ په لاس راتلی شي خو مديريت يې تر دې هم اړين کار دی، ځکه د لهجې مديريت د دې لامل کېږي چې خپل ژبنی معيار لکه څنگه چې ښايي، همغسې بډای کړو نو ويلی شو چې د لهجې مديرت د چا د فرهنگي هويت د له منځه وړلو په معنا نه دي، بلکې دا يو هويت لا بډايوي.

ما مخکې وويل چې لهجه لرل ستونزه نه ده، خو که موږ يې د مديريت هنر ولرو، يعنې که لهجه زموږ په ټولنيز، علمي او د اړيکو په چاپېريال اغېز و نه کړي يا دا چې بد اغېز و نه کړي او زيان ور ته و نه رسوي نو په وينا کې لهجه لرل ستونزه نه ده.

څنگه کولای شو چې د لهجو له اورېدو او کارولو سره ستونزه و نه لرو او پرته له گړدود کارولو خبرې وکړو؟

د وينا د فن ماهرين د دې کار لپاره موږ ته د ځينو ځانگړنو لرل اړين بولي.

۱. د ښې غوږ نيونې ځواک لرل؛ ياني دا چې زموږ د اورېدو ځواک بايد دومره غښتلی شي چې د ځينو کلمو، ترکيبونو او جملو په مفهوم چې د لهجې لرونکی کس يې را ته وايي، بايد پوه شو او د معنا ژورو ته يې بايد ورسېږو.

۲. مغز او د اورېدو حافظه مو بايد غښتلې وي.

۳. خوله او د ويلو سيستم مو بايد حرفه يي وي. دا درې ځانگړنې د نرۍ په کچه د هرې لهجې د زدکړې لپاره اړينې دي.

که موږ د لهجې د زدکړې ځانگړنې و نه لرو، نو يو رواني معيبويت به په موږ کې ايجاد شي، بيا به لږې خبرې کوو، ځکه دا وېره به را سره وي چې څوک به مو په خبرو پورې وخاندي، جرات به مو مات شي او بله دا چې په دې توگه به مو بيا د لهجې د سمون او مديريت وړتيا هم لږه او کمزورې شي.

دا پورته درې، خو هغه ځانگړنې وې چې د لهجې د اورېدو سره زموږ ستونزه را لږوي، اوس به په ځينو تکتيکونو وغږېږو چې د لهجې په مديريت کې له موږ سره مرسته کولی شي.

ــ د پښتو ژبې اعرابو( الف ، ی، و يا زور، زېر، پېښ) ته پام او توجه کول؛ زموږ ډېرې داسې لهجې شته چې ډېری کلمې يوازې د اعرابو په بدلون سره وايي، که ور ته ځير شو په اسانه کولی شو، په خبره يې پوه او مطلب ترې واخلو، يا دا چې که موږ خپله داسې څوک وو چې لهجه مو لرله او په مختلف ډول مو د اعرابو په کارونه د کلمو بڼه ور بدلوله نو يوازې يو څه پام او ځيرتيا را نه غواړي، بيا نو په اسانۍ کولی شو، لهجه مو سمه کړو، لکه د منگلو د قوم خلک چې د خپلې لهجوي ځانگړنې له مخې الف په واو تلفظوي. لکه کابل، کوبل؛ اسمان، اسمون؛ شاته، شو ته او ... تلفظوي نور نو په دغه ډول کلمو کې کوم بدلون او اوښتون نه راولي، يوازې يې توری ور بدلوي، يا لکه د د ځدراڼو خلک چې (و) په ډېريو کلمو کې په (ی) تلفظوي لکه څوک، ښک، مور، مېر، خور، خبر او... تلفظوي.

ــ د خولې وازولو او بندولو او په مناسب سرعت او نه سرعت د کلمو ويلو ته بايد توجه وکړو.

ــ له رسمي، کره او په معيارونو برابرو رسنيو څخه بايد تقليد وکړو.

ــ په نفس باور او اعتماد، چې په دې برخه کې څو خبرې شته:

نوره د همدې مخ څلورم کالم

# د رحمت الله درد د "غزل" ...

ولې د خاورې سره مينه کول، جرم دی څه؟
زه چې مين په پښتونخوا يم، نو باغي په څه يم

بل ځای خپل ولس ته د ازادۍ پيغام، په ښکلي هنري انداز کې وړاندې کوي:

د ازادۍ د پړاوونو ډيوې بلې لره
په سر د دار هم د سرونو ډيوې بلې لره
چې د ظلمونو د تورتم نه شکست ونه منې
که نور څه نه وي د زخمونو ډيوې بلې لره
د چا جابر تر مخه درده چې څوک غږ نشي کړی
په داسې وخت کې د شعرونو ډيوې بلې لره (۲: ۱۲۰)

**۱-۴ . پر درد د لهجې او په سيمه د درد اغېز:** په ټوله کې د کرلانۍ او په ځانگړې توگه د مروتو لهجې ځانگړنه دا ده، چې خواږه هنري ترکيبونه يې شاعرۍ ته ځانگړې ښکلا ورکوي. درد د ژبې پروفيسور دی، ځکه خو يې د لهجې خوږلنې نه ده هېره کړې.

وعده کول او بيا په انتظار کې پرېږدول
د ښکلو زوړ عادت دی نيمه لار کې پرېږدول
دومره زر له خپلو وعدو واړېدې؟
اوړي موسمونه مگر دومره زر؟
دغ اطمنان په غلونو ولوټلم
چې مې د غولي ديوالونه چگ دي
غوټۍ به گل شي او گلونه به وړمې ونولي
هله که خاندې، د سپرليو کاروبار ولاړ دی
جرگه دې ما گرم کړې، خو جوړ مو دې کړې
خبر دی که پنه (پړه، ملامتيا...) جانان نه قبلوي

**پر سيمه د درد اغېز:** د درد په شاعرۍ کې د لهجې او ځينو خاصو مضمونونو اغېز د سيمې پر شاعرۍ هم شوی. اوس که هلته د انجمن، ملگرو... يا خاصو مکالمو ذکر راځي، اثر به يې ضرور له درده وي.

هغه يو تن دی اې ملگرو خو يو تن نه لگي
د چا بغېره انجمن چې انجمن نه لگي
په ما به ډېر وکړئ احسان ملگرو
ما هم که وگڼئ انسان ملگرو
زړونه مو يو رنگ او مخونه بل رنگ
زه مو کړم دووه کې حيران ملگرو
ماته يې زما خبره وکړه او روان شو
"ښه وايې په هر چا اعتبار نه دی پکار"

**۱-۵ . د درد د غزل نادرې زاويې:** کله چې ژبه، ټولنه، دردونه او خوښۍ د ټولو انسانانو شريک دي، نو هنري پنځونې او مضمونونه به هم شريک وي، خو درد داسې شاعر دی، چې همدا شريک مضمونونه يې له نويو او بېلو زاويو کتلي دي.

د نويوالي هڅه او زړو مضامينو ته له نويو زاويو کتلو، د درد شاعرۍ ساده او خوږه کړې ده.

دلته يې څو داسې نمونې رااخلو، چې په لوستو او اوريدو يې انسان د خوند او حيرت احساس کوي:

د گل څه حال شو او بلبل ته په لاس څه ورغلل
عشق کې دا نه وي چې يو بل ته په لاس څه ورغلل
دا ته به هم گورو چې باغ يې معطر کړو واړه
يو دا به نه گورو چې گل ته په لاس څه ورغلل

يا دا چې:

مرگ هم ممکن نه دی الله! ستا له رضا نه بغېر
گنې دا ژوند دی چې تېرېږي له اشنا نه بغېر؟
ته دومره وکړه چې په خوږ زړگي مې لاس کېږدوه
بيا راته وايه که روغ نه شو، له دوا نه بغېر

بل ځای وايي:

ښکلې چې آ نه کوي دا نه کوي څه به کوي؟
په چا کرم په چا جفا نه کوي څه به کوي؟
چا چې ترلې د ژوند هره لمحه تا سره ده
هغه چې تا سره وفا نه کوي، څه به کوي؟
درد دې شاعر کړو، زمانې ته دې وروپېژندو
لاليه! تاته چې دعا نه کوي، څه به کوي؟ (۲: ٦۴)

رحمت الله درد د ۱۹۳۴ ز کال د ډيسمبر پر ۴مه د خيبر پښتونخوا د لکي مروت په مستي خېل سيمه کې د نظام خان کره زېږېدلی و. لومړنۍ زده کړې يې تر لسم ټولگي پورې د لکي مروت په های سکول کې وکړې. دوولسم ټولگی يې د بنو حکومتي کالج کې ولوست، څوارلسم د ډيره اسماعيل خان په کالج کې او وروسته يې د ماسترۍ سند له پېښور پوهنتون څخه تر لاسه کړل.

نومړي رسمي دنده د يو ښوونکي په توگه پيل کړې وه او وروسته بيا د پروفيسرۍ تر رتبې ورسېد، چې وروسته يې د خيبر پښتونخوا بېلا بېلو کالجونو کې د اردو د استاد په توگه دندې ترسره کړې.

پروفيسر رحمت الله درد د ۲۰۱٦ ز کال د اگسټ پر ۳۱مه د ۸۲ کالو په عمر له دې نړۍ سترگې پټې کړې او په خپله پلرنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شو. (۳) روح يې ښاد.

**ماخذونه**

۱. مياخيل، بارکوال. نوميالی غزل بول رحمت الله درد. ۱۳۹۵ل کال، (https://pa.azadiradio.com)

۲. مروت، عمردراز. پروفېسر رحمت الله درد، غزل، تختي خېل ادبي ټولنه، ۲۰۰۹م کال.

۳. https://ps.wikipedia.org/wiki/رحمت_الله_درد.

د مقالې پای

۱. د خپلې لهجې په کارولو بايد شرمنده او خجالت نه شو او په وياړ ووايو چې د کوم ځای يو او څه ډول لهجه لرو، دا کار له موږ سره مرسته کوي چې په پوره جرات پخپله لهجه وغږېږو او د خپلو خبرو او لهجې ستونزې له منځه يوسو.

۲. په واضح او رسا غږ خبرې کول ، ځينې خلک د دې لپاره چې لهجه يې ښکاره نه شي خپل غږ ټيټوي يا يې بدلوي، دا کار د دې لامل کېږي چې سړی پخپله لهجه کې پاتې شي او د سمون چاره يې ترې پاتې شي.

۳. د نورو قومونو او لهجو مثبت شيان او توکي يادول يا د لهجو تر منځ توپيرونه پېژندل او يادول.

دا خو په وينا کې د لهجې د مديرت خبره وه، په ليکنې ډول هم بويه چې د لهجې مديرت ته لازم پام وکړو او هغه داسې چې بايد خپلو جملو ته ځير شو چې کوم/څه ډول جوړښت او د کومو لفظونو او ترکيبونو ( چې زموږ په لهجه کې شته) کارول په کې ښه برېښي او د مطلب لېږد مو اسانوي؛ د پښتو گړدودونو په اړه شوی وېش او د لهجو بيان شوې/ په گوته شوې ځانگړنې د تامل وړ دي، يو ستر وېش يې دا دی چې په سيمو يې وېشلې دي او توپيرونه يې يوازې د ځينو تورو د ويينگ له مخې کړي دي، لکه (ړ) په کندهارۍ لهجه کې داسې وييېنگ لري په ننگرهارۍ کې داسې او په منځنۍ کې داسې؛ همداسې ځينې نور توري، خو د لهجو په اړه يې ډېرې خبرې او اړين جزيات لا هم ناويلي پرېښې دي، هغه دا چې دوی په لوی لاس په نورو قومي او سيمه يزو گړدودونو کې د شته ژبنۍ پانگې او ارو پښتو وييو په اړه هېڅ کار نه دی کړی چې د پښتو له ودې، پراختيا او بډاينې لپاره ستر کار تر اخيستی شو، دا هر يو گړدود په رزگونو ويي، ترکيبونه، گړنې او نور ژبني توکي لري چې تراگټنه يې د ژبې د بډاينې لپاره اړينه ده او د تراگټنې لارې چارې يې بايد رڼې شي، د دې وېش يوه بله ستونزه دا هم ده چې په لوی لاس په کې د ډېرو پښتنې سيمو او پښتنو قومونو هويت هم يا په نورو گړدودونو کې گډ شوی دی او يا هم اصلاً ياد شوی نه دی؛ نو اوس که څوک ليکل کوي، ممکن ډېر ځله داسې ور سره وشي/ شوي وي چې ډېر فکرونه او ډېرې خبرې په پښتو کې د کوچنې ژبني چوکاټ له امله ناويلې پاتې شوې وي، دوی ممکن په همدې کوچنې گړدوديز وېش او له دې ژبنۍ تنگنا څخه وتل،د ځان او خپلو ليکنو لپاره يو ډول نيمگړتيا وبولي، خو په دې اړه نياومنه خبره دا ده چې بايد ليکوال او ژبپوهان د پښتو د ټولو گړدودونو له کارېدونکو، گټورو او اړينو توکو او پانگې څخه خبر وي او په لوی لاس او ازاد مټ يې وکاروي(البته د ځای او ځانگړنو په پېژندلو سره) لکه: که موږ (وکسه، کسم، کسو او ... يا ماسکه وېل، راشکه او د گړدودونو نور دا ډول ترکيبونه او ويي) په ليکنو کې په خپل ځای او داسې چې زموږ جملې او متن لا ډېر ور سره ښکلی او د پوهاوي وړ وگرځوي، وکارو، نه يوازې ستونزه به يې نه وي پېښه کړې، بلکې لا به يې زموږ متن او ليکنه بډايه او ښکلې کړې او په دې ډول به مو په زرگونه ان لکونه ويي له مرگه او له نه کارونگه خوندي کړي او کارېدونکي او ژوندي ويي په مو ترې جوړ کړي وي.

**پايله**

گړدودونه په هر ځای او هره ژبه کې شته، گړدوديزه رنگارنگي د پرگنو ژبنۍ ښکلا بللی شو او هر گړدود د ارزښت او احترام وړ دی. ډېری خلک غواړي پرته له کوم خاص گړدود څخه وينا وکړي، خو په څرنگوالي يې نه پوهېږي. ما ته په نارسمي ځايونو او وختونو کې د بېلابېلو سيمه يزو گړدودونو اوريدل په زړه پورې وي، خو په رسمي ځايونو او وختونو کې مې په رسمي گړدود وينا او خبرې خوښېږي.

که موږ په وينا کې د گړدود مديريت زده او پلی کړو، هم به مو ځان ته هم اوريدونکو ته لکه څنگه چې ښايي همغسې گټه رسولې وي. خو که د وينا پر مهال مو د گړدود مديريت ناسم وي يا هېڅ نه وي نو بيا به (غږېدلي يو خو څه به مو ويلي نه وي.) او د دې ستونزې د حل لپاره لاندې سپارښتنې په پام کې نيول اړين دي.

۱. په هغو کاري ځايونو کې چې وېناکول، سيمينار وړاندې کول او لېکچر ورکول اړين او بنسټيز دي بايد د سمې وينا د زدکړې په تېره بيا په وينا کې د لهجې د مديريت زده کړه ډېره او لازمي شي.

۲. په رسمي ځايونو او محيطونو کې بايد ليکنې او وېناووې دواړه په رسمي گړدود وشي چې خلک له خبرو او ليکنو د ناسم پوهاوي له ستونزې وژغورل شي.

۳. خلک دې خپل نارسمي گړدودونه هم ژوندي وساتي خو په دې اړه دې له تنگ نظرۍ او ځانپالنې تېر شي، هر ځای او په هره موقع د خپل گړدود له کارولو ډډه وکړي، تر څو يوه معياري او کره پښتو گړدود لرلو ته ورسېږو.

**مأخذونه**

۱. زيار، مجاور احمد، پښتو گړدودنه، پشتو څېړنې، پرلپسې نومره ۲۲۳ . (۱۳۵٦ل.ل) . پښتو ټولنه

۲. ترې، حبيب الله، نوې ژپپوهنه او ژبني مسايل (۱۳۴۵ ل.ل) پښتو ټولنه

۳. غوربندی، ميراجان، گړدود(لهجه)پوهنه، (۱۳۹۵ل.ل) جهان دانش خپرندويه ټولنه

۴. منگل، علي محمد، پښتو لهجې (۱۳٦٦ ل.ل) د دفاع وزارت د نشراتو رياست

۵. رضايي، هادي، فن بيان و سخنوري، (۱۳۹۷ ه ش) انتشارات فرزانگان دانشگاه

٦. غضنفر، اسدالله . (۱۳۸۹ل.ل). د نثر ليکلو هنر . کابل : مومند خپرندويه ټولنه

۷. عطايي، زهره، سخنراني کنيد و بدرخشيد، (۱۴۰۰ ه ش) ، نشر بيد

۸. کېنگ، لاري، د بريالی وينا فن، ژباړن: سليمي نړيوال، شبير احمد، ۱۳۹٦ ل.ل) اکسوس کتابپلورنځی

۹. تريسي، برايان، قدرت بيان، مترجم: فلاح، سمانه، (۱۳۹۲ ه ش ) انتشارات طاهريان

۱۰. زيار، مجاور احمد، پښتو پښويه (گرامر) ۱۳۸۴ ل.ل)، دانش خپرندويه ټولنه

۱۱. هوتک، محمد معصوم، د معياري ژبې يوه څېړنه، ۲۰۰۷ م ) رشاد خپرندويه ټولنه، کندهار

۱۲. الهام، محمدرحيم، ژبه او گړدود، ۱۳٦٦ ل.ل، کابل مجله

۱۳. زيار، مجاور احمد، پښتو ليکلار، ۱۳٦۰ ل.ل، د لوړو زدکړو او مسلکي تحصيلاتو وزارت، کابل

۱۴. تنيوال، مولا جان، ژبه او ټولنه، ۱۳۸۰ ل.ل، د علومو اکاډمي، کابل

۱۵. دوست محمد، د افغانستان ژبې او توکمونه، ۱۳۵۴ ل.ل، پښتو ټولنه، کابل

/ د مقالې پای

# زېرى

علمي- خبرتيزه او ادبي پښتس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

**مسئول مدير:** څېړندوی لطف الله صابر

**مهتممه:** څېړنیاره بي بي شفيقه نوري

**کتنپلاوی:** څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی لطف الله صابر، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

**د اړيکي شمېره:** (+۹۳)۷۷۷۴۲۴۳۴۰

**برېښناليک:** zerai۱۳۱٦@gmail.com

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پرغاړه دی.

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز څېړنيز ارګان

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د يوې ګڼې بيه:** پنځه افغانۍ

**د ۱۴۰۱ ل.کال، د غويي مياشتې ۳- ۴مه ګڼه | پرله پسې ۳۹۵- ۳۹٦مه ګڼه**



څېړنوال محمد آصف احمدزی


## د فرهنګي او ادبي خبرونو پېښليک

### د زري کړکي د جايزو يوولسمه دوره

له ۱۳۹۰ کال راهيسې د هېواد يو شمېر منل شوي ليکوالان او نقادان د زري کړکي په نامه هر کال د افغانستان غوره ليکوالو او شاعرانو ته يوه ادبي جايزه ورکوي.

سږکال (۱۴۰۱هـ. ش) د زري کړکي اکاډمي ویاړ لري چې بيا هم د افغانستان د ادبياتو دغه يواځينۍ جايزه چې د ليکوالو له خوا ليکوالو ته ورکول کېږي، د هېواد د ادب او ژبو د غوړېدا له هيلې سره ادب دوستانو ته اعلانوي.

د ۱۴۰۱ لمريز کال د زري کړکي جايزه:

- د اصف مشال ناول »اطرافي «، او د احسان نيازي شعري ټولګې »مزار بی وطن «ته ورکول کېږي.

د آثارو د ارزونې د ژوري پلاوي غړي دا کسان وو: صديق الله بدر، ګلنور بهمن، رضا محمدي، محب الله زغم او مجيب مهرداد.

دغه جايزه د اپريل درويشتمه (د ثور دريېمه) د کتاب نړۍوالې ورځې سره سمه اعلان شوې ده.

سرچينه: د نجيب منلي فېسبوک پاڼه (https://www.facebook.com/lawanguine.manalai).

### "د سوېلي پښتونخوا ادبي، تاريخي او کلتوري يون" نړيوال سيمينار

د پاکستان د بلوچستان ايالت په کويټه ښار کې »د سوېلي پښتونخوا ادبي، تاريخي او کلتوري يون «تر سرليک لاندې نړيوال سيمينار د غويي په ۲۳مه پيل شو چې د افغانستان په ګډون له بېلابېلو سيمو پښتانه ليکوال، اديبان او شاعران وربلل شوي وو.

دغه درې ورځنی نړيوال سيمينار د کويټې د پښتو اکاډمي له خوا جوړ شوی و چې د سوېلي پښتونخوا پر ادب، تاريخ او کلتور په اړه مقالې په کې واورول شوې.

ليکوال او شاعر او د کويټې پښتو اکاډمي منشي خليل باور وايي، دغه سيمينار ته د بلوچستان ايالت ترڅنګ له خيبر پښتونخوا او افغانستان څخه تر ۲۰۰ پوهان، ليکوالان، اديبان او شاعران- چې مېرمنې هم په کې شاملې دي- بلل شوي دي.

هغه زياته کړه، له افغانستانه دغه سيمينار ته ۹ کسان بلل شوي وو چې ۴ يې ورغلي، خو نور د ويزې د ستونزو له امله نه دي ورغلي.

له افغانستانه دغه سيمينار ته په ورغلو مېلمنو کې ليکوال او شاعر لعل پاچا ازمون، د علومو اکاډمي غړی عبدالظاهر شکيب او نور شامل دي.

سرچينه: https://pajhwok.com/ps/۲۰۲۲/۰۵/۱۳/a-three-day-international-seminar-on-pashto-language-has-started-in-quetta/

### د فدامحمد نظري لومړی تلين

د غويي په ۲۵مه (د ۲۰۲۲م کال د مې ۱۵مه) د سوتهال په کابل رستورانت کې لندن افغان ادبي بهير او د اروابښاد فدامحمد نظری کورنۍ د افغان ادبي بهير د تکړه ملګری فدامحمد نظري د لومړی تلين يادغونډه رابللې وه.

د نمانځنې او درناوی په دې غونډه کې د اروابښاد پر کورنۍ او خپلوانو سربېره د اروابښاد نږدې دوستانو، نورو ګڼو ليکوالو، شاعرانو، سياسي او مدني فعالانو برخه اخيستې وه.

په دې غونډه کې چې د بي بي سي تکړه وياند سپين تڼي پرمخ وړه، د نظري پر ژوند او آثارو ګڼو ليکوالو، شاعرانو، مدني او سياسي فعالانو ويناوې وکړې.

د غونډې رابلونکي عبدالوکيل سوله مل، نوموړی هغه بې جوړې فرهنګ پالونکی وباله چې د خپلې سوداګرۍ نيمايي ګټه يې په فرهنګي چارو ولګوله او هيڅ فرهنګي غونډه يې قضا نه کړه، ټول وخت يې هم له ليکوالو سره د دوی د کتابونو په چاپ کې مالي برخه اخيسته او هم يې له بېوزله ليکوالو او شاعرانو سره نغدي مرسته کوله.

د غونډې دوهم ويناوال شېرولي ورين و. نوموړي د هغه د لنډ ژوندليک ترڅنګ د هغه په سياسي او فرهنګي فعاليتونو هم لنډه رڼا واچوله.

ليکوال او وتلي ژورناليست عبيدالله محک له هغه سره د خپل سياسي او سوداګريز فعاليت ډېر يادونه او خاطرې شريکې کړې، هغه د مرحوم د هغو مرستو يادونه وکړه چې د ډاکټر نجيب الله د حکومت پر وخت يې ګڼو فرهنګي مرکزونو لکه خوشحال فرهنګي ټولنې سره کړې وې.

سرچينه: جانداد، https://taand.net/?p=۲۰۹۰۲۸

### د ډاکټر کبير ستوري په ياد غونډه او مشاعره وشوه

افغان کلتوري ټولنې د غويي په ۲٦مه د پېښور په سپرينګ کارنيول هوټل کې د شاعر، ليکوال او سياستوال ډاکټر کبير ستوري د نمانځغونډې تابيا کړې وه چې د لر او بر يو شمېر شاعرانو، اديبانو، پوهانو او د شعر او ادب استادانو او مينه والو په کې ګډون درلود.

د دې درنې غونډې د صدارت لپاره د پروفيسور ډاکټر اباسين يوسفزي نوم غوره شو، مشر مېلمه يې د افضل خان لالا زوی ډاکټر محد سليم خان او اعزازي مېلمانه يې پروفيسور ډاکټر اظهارالله اظهار، محمد هاشم غمشريک، سيد صابرشاه صابر، اقبال حسين افکار، پروفيسور ډاکټر انور علي انور، ډاکټر استاد عزيزالله حصاري جبارخېل، څېړنپوه ډاکټر سيد محي الدين هاشمي، ډاکټر انور ظفري او قاضي ډاکټر حنيف الله حنيف وو.

سرچينه: امان الله نصرت، د » افغان کلتوري ټولنه« فېسبوک پاڼه.

### سيمينار: د پښتو ليک لوست پرمختيا او املايي ستونزې

د پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون له خوا تر پورته عنوان لاندې دوه ورځنی سيمينار د غويي په ۲۸-۲۷مه (د ۲۰۲۲م کال د مې ۱۷- ۱۸مه) ترسره شو.

د دغه سيمينار په پرېکړه ليک کې د سيمينار موخه د پښتو ليک لوست وده او پرمختيا ورکولو په هکله سپارښتنې راغونډول، د املايي ستونزو په هکله د پوهانو سپارښتنې او نظريات مطرح کول، د پښتو ليکدود په هکله د باړه ګلۍ پرېکړې په رسمي يا دولتي سطحه منلو لپاره هڅې او يو لړ نور اقدامات کول ښودل شوي دي.

د سيمينار په پيل کې د پښتو اکېډيمي ډايرکټر پروفيسور ډاکټر نصرالله جان وزير د سيمينار اهداف او مقاصد، د پښتو اکېډيمي تاريخي پسمنظر، د اکېډيمي دندې او د اکېډيمي په کچه د روانو چارو په هکله لنډ معلومات له ګډونوالو سره شريک کړل او له مېلمنو هر يوه يې په خپل وار سره د پښتو ژبې او ادب په تړاو او د پښتو د پرمختيا هلوځلو په لړ کې د خپلو نېکو هيلو څرګندونه وکړه.

### د عمر بورا زماني نمانځغونډه وشوه

د شاعر، ليکوال، ټولنيز او مدني فعال عمر بورا زماني د فرهنګي خدمتونو او کارونو د نمانځنې په پار علمي غونډه په کابل کې وشوه.

دا غونډه »د خپل وطن يو سندربول بورا «تر سرليک د غويي په ۲۹مه د افغانستان ملي تحريک له خوا د ژوندون راډيو ټلوېزيون د غونډو په تالار کې جوړه شوه.

پوهاند دکتور محمد اسمعيل يون، ضياءالرحمن ضياء، ارزو سادات، ايوبي، فريد لطيفي، عبدالهادي بېلوال او نورو د ښاغلي بورا زماني د ژوند، آثارو، افکارو، سياسي، ټولنيزو او فرهنګي خدمتونو په باب هر اړخيزې خبرې وکړې او دی يې د هېواد يو نه ستړی کېدونکی خدمتکار وباله.

په غونډه کې د محمد بن موسی ښوونځي د ترانې ټيم د غړو له خوا د بورا زماني شعرونه هم زمزمه شول.

سرچينه: https://www.facebook.com/ismael.yoon۱

### د ډاکټر روزمين په درناوي کې مشاعره

د جندول پښتو ادبي ټولنې د ډاکټر روزمين خان په درناوي کې خوندوره مشاعره د غويي په ۳۰مه جوړه کړې وه.

د دې مشاعرې صدارت ډاکټر لعل پاچا ازمون وکړ، مشر مېلمه پروفيسور ډاکټر اباسين يوسفزی، د دوی ترڅنګ ډاکټر عبدالظاهر شکيب، ډاکټر سمندر يوسفزی، بخت روان عمرخېل، ډاکټر سيد ظفرالله بخشالی او کوربه ډاکټر روزمين خان موجود وو.

د مشاعرې په پيل کې بخت روان عمرخېل دېر معيارو ته د راغلو مېلمنو مننه وکړه. د ډاکټر عبدالظاهر شکيب له خوا ډاکټر روزمين خان ته د دوی د خدماتو د اعتراف په توګه يادګاري شيلډ ورکړل شو، همدا راز د ډاکټر اباسين يوسفزي له خوا راغلو مېلمنو ډاکټر لعل پاچا ازمون او ډاکټر عبدالظاهر شکيب ته د درناوي پګړۍ پر سر کړې شوې.

په مشاعره کې مسلم خان وصال، وقار خان وقار، اشنا باجوړي، بهرام ګل بهرام، علاوالدين سنګر، رضوان الله شمال، عزيز الرحمن عزيز، شهاب بخاري، درويش روښان، حبيب عابد، ننګيال خاورين، ډاکټر سمندر يوسفزي، باچا زاده حيران، ابو فضل فيضي، مشر مېلمه ډاکټر اباسين يوسفزي او صدر محفل ډاکټر لعل پاچا ازمون خپل شعرونه واورول.

ياده مشاعره د شپې تر يوې بجې پورې دوام درلود.

سرچينه: https://www.facebook.com/zafar.kaka.۹۲

### کوټه کې يوه مهمه قلمي نسخه پيدا شوه

څېړونکی او ليکوال ډاکټر عبدالرؤف رفيقي زېری را کوي چې په کوټه کې يوه بله مهمه قلمي نسخه پيدا شوه.

ده پر خپلې فېسبوک پاڼه کښلي: "د براهوي، انګليسي او اردو ژبو د نوميالي څېړونکي او ليکوال ډاکټر عبدالرحمن براهوي يې کور ودان چې د غويي په ۳۱مه يې د پښتنو د تاريخ يوه مهمه خطي نسخه را باندې پېرزو کړه، دا کتاب "شجره ذات و صفات اقوام افغان" نوميږي چې څلور سوه دولس کاله وړاندې په ۱۰۳۱هـ. ق کې شيخ صديق په فارسي ليکلی دی".

دی زياتوي، که خدای کول پر دغه نسخه به تر کار کولو وروسته د پښتنو د تاريخ ډېر ورک احوال راښکاره شي.

### تازه چاپ شوي آثار

**د خيرالبشر خاموش کليات:** د سيد خير البشر خاموش د شعرونو ټولګه ده چې د دلاويز هاشمي په چاپ زيار د مومند څېرندويې ټولنې له خوا چاپ شوی دی. د دلاويز هاشمي په سريزه او د څېړنيار شريف الله دوست په پيليزه شروع شوی چې (۱۷+۳+۷۰٦ =۷۲۷) مخونه لري.

خير البشر په ۱۳۱۴هـ. ش (۱۹۳٦م) د ازادو قبايلو مومندو سرحدي سيمې د لکړو (غازي آباد) کلي کې زېږېدلی او په ۱۳۷۷هـ. ش (۲۰۰۹م) کې د ۷۳ کلونو په عمر وفات او د کاپيسا ولايت د محمودراقي ولسوالۍ د نواباد کلي په خپله پلرنۍ هديره کې خاورو ته سپارل شوی دی.

**درياب په کوزه کې:** د ډاکټر عبدالرؤف رفيقي اثر دی چې پښتو اکېډمي کوټې د پنځوسمې کاليزې په وياړ د دې مهم، تاريخي او انسايکلوپېډيک کتاب د چاپولو وياړ تر لاسه کړی دی. په دې نهه ټوکه کتاب کې د پښتو د ټولو کتابونو چې پر هره موضوع وي، که د نثر که د نظم، له پيل څخه بيا تر ۲۰۲۱مکال پورې په اړه معلومات ورکول شوي دي.



د دې اثر ليکوال رفيقي ليکي: "شکر چې په خپل ژوند کې مې خپل دا درون څېړنيز اثر "درياب په کوزه کې" چې ما د نړيوالو ژبو او علومو په سيالي ليکلی دی، چاپ شو. دا څه اسان کار نه وو، د خپل شيرين عمر ډېر خواږه کلونه مې ترې جار کړه، دوه ځله مې د عينکو نمبر کې بدل شو، په بېلابېلو ژبو کې مې دا ۴۹م چاپي اثر شو چې نهه ټوکه دی او تر پنځه زره مخونو اوښتی دی چې د پښتو د چاپ او ناچاپه کتابونو له بېخي پيله تر ۲۰۲۱ پورې بشپړ دايره المعارف دی، د پښتو د ۲۲۰۰۰ کتابونو احوال په کې دی او په نړيواله کچه بېلابېلو پوهانو تقريظونه پرې ليکلي دي. دا کتاب پښتو اکاډمۍ کوټې د خپل پنځوس کلن جشن او خپل څلورم نړيوال کنفرانس په وياړ چاپ کړ".

**حدود العالم له ختيځه تر لوېديځه**



د «حدود العالم من المشرق الی المغرب» پښتو ژباړه ده. دا اثر په ۳۷۲هـ. ق يا ۹۸۲م کال ليکل شوی دی چې تازه د مير حسن خان اتل له خوا پښتو ته ترجمه او چاپ شوی دی.

**پرتليزه- تاريخي ژبپوهنه:** د کابل پوهنتون د استاد پوهنمل يحيی همای اثر دی.

## ژبپوهنيزه عصب پوهنه


**ليکوالان: فيروزه اصغري او بهمن زندي**
**ژباړه: څېړندوی لطف الله صابر**


### لومړۍ برخه/ لنډيز

د بېلابېلو علومو او پوهنو تر منځ د اړيکې او همغږۍ راز په دې کې دی چې يو ځانګړی علم په يوازېتوب سره نه شي کولی چې ځينو پوښتنو ته ځواب ووايي، پر همدې بنسټ ځينې هغه پوښتنې چې د يوې پوهنې پر مټ د حل او ځواب وړ نه پاتې وي د بين الرشتوي يا همغږو پوهنو پر مټ د حل وړ بلل کېږي چې دې ډول علومو ته په نړۍ واله اکاډميکه ساحه کې لومړيتوب ورکول کېږي.

همدار راز ژبپوهنه هم د يوه داسې علم په توګه چې د ژبې پېچلې انساني، Epistemology او ټولنيزه پديده ده، تر بحث او څېړنې لاندې نيسي؛ له شک پرته چې په څېړنو کې به يې له نورو اړوندو همريښه علومو څخه ګټه اخيستل کېږي.

په پوهنتونونو او پوهنځيو کې ټولنيزې ژبپوهنې ، روان پوهنيزې ژبپوهنې، کمپيوټري ژبپوهنې، تربيتي ژبپوهنې او قضايي ژبپوهنې څانګو ته په کتلو سره ويلی شو چې دا رشتې له يو او بل سره ژورې خپلمنځي اړيکې لري چې په اوسني عصر کې د ژبې درک او برداشت پرې مطالعه کېږي. د ژبپوهنيزې عصب پوهنې اصلي موضوع دا ده چې د »ژبې او مغز «تر منځ اړيکې تر بحث، څېړنې او سپړنې لاندې ونيسي. دا چې ژبه څنګه په مغز کې زدکړه کوي، په ځانګړې بڼه واقعيتونه څرګندوي او بيا کتنه پرې کېږي هغه اصلي پوښتنې دي چې ژبپوهنيزه عصب پوهنه يې ځواب وايي، له يوې خوا د بيولوژيکو بنسټونو په برخه کې د لومړۍ او دويمې ژبې د زده کولو په اړه د نويو څېړنو وړ پرانيزي او له بل پلوه په نړۍ واله کچه په ژبني اختلال، وينايېزې ګډوډۍ او ژبني بندښت باندې په زرګونو د اخته کسانو د ستونزې په هوارې کې بنسټيز رول لري.

په دې ليکنه کې هڅه شوې ده چې لومړی د ژبپوهنيزې عصبپوهنې پر تحول، د ژبې او مغز د اړيکو په اړه له پيله تر اوسه مطرحې نظريې تر بحث لاندې نيول شوې دي. وروسته ژبنی اختلال (ژبنی بندښت او وينايېزه ګډوډې) او د ژبې زده کول د دوو اصلي مبحثونو په توګه د عصب پوهنې مطالعاتو په برخه کې مطرح کېږي تر څو په دې برخه کې، واضح او څرګنده پوهه ترلاسه شي.

**کليدي کلمې**: بين الرشتوي (همريښه) مطالعات، ژبپوهنيزه عصبپوهنه، ژبه او مغز، ژبنی بندښت او ګډوډي، د ژبې د زيانمنتيا پېژندنه، د ژبې زده کول.

### سريزه

د کلاين او نيوول له قوله همريښه يا بين الرشتوي مطالعات »هغه عملي جريان دی چې د هرې مسئلې، هرې ستونزې يا د ډېرو هغو پېچلو مقولو د حل او سپړنې ځواب ويلی شي چې د يوې پوهې يا مسلک پر بنسټ نه شي حل کېدلی .«(جعفر توفيقي او همکاران يې ۱۳۸۷:۱۱ - ۱۰)

له همدې مخې ژبپوهنه هم د بل هر علم په شان د نورو همريښه پوهنو له لاسته راوړنو څخه ګټه اخلي او خپله هم په نورو علومو کې کارول کېږي. دې علم په دې څو وروستيو لسيزو کې د نورو علومو له څانګو (روانپوهنې، ټولنپوهنې، عصب پوهنې او نورو سره نوي تړاوونه ترلاسه کړي دي؛ همدا مطالعاتي تړاوونه د بين الرشتوي يا همريښه علمي څانګو لکه (د ژبپوهنيزې روانپوهنې( psycholinguistics)، ټولنيزې ژبپوهنې ( sociolinguistics) او ژبپوهنيزې عصبپوهنې ( neurolinguistics) د پيدايښت لامل شول.

د ژبې عصب پوهنه د ژبې او د مغز د متفاوتو جنبو د کړو وړو تر منځ د اړيکو او په مغز کې د ژبې د درک او توليد څرنګوالی تر څېړنې لاندې نيسي. دا پوهنه په واقعيت کې د نيورولوژي / نيوروسايکولوژي (د مغز د کار او جوړښت د څرنګوالي) او د (ژبې د کار او جوړښت د څرنګوالي) تيوريو ته يو تر بله تړاوو ورکوي. (آلسن، ۲۰۰٦، ۴مخ).

د ژبې زيان پېژندنه (Language Pathology) د ژبپوهنيزې عصب پېژندنې د مطالعاتي حوزې يوه بله څانګه ده چې د ژبني اختلال (Aphasia) يا Language Disorders له اړخه چې کومه مغزي زيانمنتيا رامنځته کېږي تر بحث او څېړنې لاندې نيسي.

د ژبې زيان پېژندنه (Language Pathology) کې دوه ټاکونکې موخې تعقيبېږي: لومړی د ژبې او مغز تر منځ د اړيکو سپړنه او په مغز کې د ژبې د زده کولو او بيا وړاندې کولو څرنګوالی چې د ژبنيو نظريو د رد يا تأييد په برخه کې کارېږي، او دويم د هغو کسانو له پاره د درملنې د لارو چارو موندل چې په ژبنيو اختلالاتو اخته وي. (نيلي پور، ۱۳۸۰).

نن ورځ په مکرره توګه د ازمايښتونو ترسره کول، د موډلونو جوړول او کمپيوټري بڼه ورکول او له عصري تصوير اخيستلو څخه ګټه پورته کول، د مغزي امواجو ثبتول د ژبې د زيانمنتيا او مغزي فعاليتونو د اړيکې پېژندلو ډېر عام او منلي ميتودونه دي. همدا راز د ژبې او مغز د اړيکو په برخه کې د ډېرو تاريخي څېړنو په ترسراوي سربېره، د ژبې عصب پوهنې اصطلاح، د نولسمې پېړۍ په وروستيو کې د يوې علمي اصطلاح بڼه غوره کړه. د لومړي ځل له پاره په »مطالعاتی درباره عصب شناسی زبان «کتاب کې د ژبې عصبپوهنې ته د بين الرشته يي يا همريښه پوهې په توګه چې د ژبې او مغز تر منځ اړيکې څېړي اشاره شوې ده. (ويتاکر او ويتاکر:۱۱). لوريا (Luria) په »مسايل اساسي در عصب شناسي زبان «کتاب کې د ژبې او مغز په اړه يوې حرکي ساحوي ډلبندۍ ته اشاره کوي، چې د واقعي شکلي جوړښت عملي جريان »شفاهي اړيکې او درک «او د دې عملي جريان شرايطو اجزاوې چې د هغو تر اغېزمنتيا لاندې همدې اړيکې شکلي جوړښت موندلی دی، اشاره کوي. (آلسن، ۲۰۰٦: ۴).

د ژبې عصبپوهنه چې اصلي موضوع يې ژبه او مغز تشکيلوي، له ډېرو علومو سره اړيکې او همغږي لري، له هغې ډلې څخه ژبپوهنه، عصب پوهنه، نيوروفيزيولوژي، نيوروآناتومي، روان پوهنه، روان درملنه، وينا درملنه او کمپيوټري علوم يادولی شو. په دې رشتو سربېره نورې څانګې هم شته لکه: (نيوروبيولوژي، انسان پېژندنه، کيميا، ادارکي علوم او مصنوعي هوش) چې نظريې، چلند بېلګې، روښونه او د هغوی موندنې د دې علم په وده او پرمختګ کې رغنده رول او اغېز لري.

د ژبې او مغز د اړيکو په برخه کې له پيله تر اوسه بېلابېل اندونه موجود دي چې ټول يې د ارزښت او اهميت له مخې يو شان نه دي. په دې څېړنه کې د ترسره شوو څېړنو د تحول په بهير سربېره، د ژبې او مغز د حوزې په اړه څو مطرحو نظريو ته اشاره کېږي: سيمه ييز وېش يا منطقه يي ډلبندي (Localism)، د ژبني فعاليت او د مغز د کړو وړو تر منځ په اړيکه باور لري او پر همدې بنسټ هره ژبنۍ کړنچاره د مغز په طبقه (پوړۍ) کې ځانګړی ځای لري. په دې برخه کې بله نظريه پيوندي (Connectionism) نظريه ده، چې له کلاسيکې او نيوکلاسيکې (Classical) نظريې پر بنسټ د مغزي طبقې بېلابېل او له يو او بل سره مرتبط مرکزونه چې د ژبنيو کړنو دنده پر غاړه لري او اختلال لرونکې ژبه د هغو مرکزونو تر منځ د اړيکو پرې کولو پايله ده چې په مغز کې د ژبنۍ کړنچارې دنده ترسره کوي. د کُل پالنې (کل ګرايي، Holism) نظريه يوه بله اصلي نظريه ده چې د ژبې د بېلابېلو سطحو او د مغز د عملي جريانونو په تشکيل بندۍ ټينګار کوي. همدا راز دا نظريه په دې ټينګار کوي چې ډېری ژبنۍ کړنچارې د مغز د يوې ستري برخې په مرسته چې په ګډه توګه د کار کولو په حالت کې دي، عمل کوي. د ژبې او مغز د اړيکو په برخه کې ډېری مطرح شوې نظريې له دې نظريې څخه اغېزمنې دي. بله نظريه د سيمه ييز وېش يا د محرکې منطقه بندۍ نظريه ده چې په انګليسۍ کې ورته Dynamic Localization وايي. دا نظريه په دې باور ده چې ژبه او مغز د مختلفو سطحو او عملي جريانونو درلودونکې دي.


پاتې برخه په بله ګڼه کې